دویمه او وروستۍ برخه

# دهند د پنجاب پټیالې پوهنتون

## چې ۷۰ افغاني ځوان (PhD) ډاکتران په کې پر علمي زده کړو

## او څېړنو بوخت دي

پروفیسورعبدالخالق رشید



## له افغان محصلینوسره کتنه :



د اپریل د میاشتې په ۱۸نیته له غرمې وروسته  د خارجي محصلینو د ادارې له خوا د شپیتو تنو په شاوخوا کې افغان محصلین د انجینري پوهنځي په یوه تالار کې سره راټول شوي وو، د دغو زده کونکو لویه برخه هغه محصلین ول چې د دوی اکثریت په خپلو لوړو زده کړو (دوکتورا) دوره باندې بوخت ول، له لنډو پیژندگلوو خبرو وروسته چې د محصلینو په استازیتوب افغان محصل دوکتور عبدالهادی شریفي وکړې، ماته بلنه راکړه چې باید دخپل سفر او دلته له افغان محصلینو سره دکتنې په اړه یو څه لنډې خبرې ولرم، زما له پاره د دوی راتگ او بیا تر یوه چت لاندې راټولیدل له شکه پرته یوه لویه علمي او افغاني خوښي وه، د خپل راتگ او خپل علمي کاراوداچې د دوی د پوهنتون رییس زما بلنه منلې وه اوپه پوهنتون کې یې دیوه ریسرچ سکالر او میلمه په توگه ماته د استوگنې ټول شرایط برابرکړي وو، هغه یادونه او مننه  مې وکړه، افغان ځوانو محصلینو ته ما د خپلو خبرو په پیل کې دا خبره وکړه چې زه د هیچا او هیڅ ډلې استازیتوب نه کوم، یوازې د یوه استاد او یوه هیواد وال په توگه نن دلته له تاسې سره لکه تاسې غوندې یم، څو وکولای شو، د یوه دوو ساعتوپه ترڅ کې له یوه بل سره خپل علمی ژوند بریاوې او

ستونزې سره شريکې کړو، که مې پروس وه يوازې کولای شم چې ستا غړ ستاسې برياوې د خپلې ليکنې او ليدنې له لارې تر يوه ځايه او تريو چا پورې په رښتينې توگه ورسوم، ما دغه ټکي ته هم اشاره وکړه چې هيواد مو د تاريخ له سختو شرايطو او تاريخی آزموينو سره مخامخ دی، دا چې څنگه به له دغو ستونزو ځان وباسو دا کار هم د ورځې په پای کې پرتاسې علمي او ملي کادرنو پورې اړه لري، ستاسې زده کړې، ستا علمي هڅې زموږ د هيواد راتلونکی تضمينولای شي، ستاسې حوصلې او تجربې به هغه څه وي چې زموږ د هيواد د سرنوشت دغه پر توپان لاهو بيړۍ به د بري ساحل ته رسوي.




د ماليزيا نامتو مشر مهاطير محمد د خپل هيواد د سوکالۍ او ترقۍ رازدخپل هيواد د ځوانانو پر روزلو او د هغوی پرنه ستړې کيدونکو هڅو پورې اړوند وباله ځکه خويې په زرگونو ځوانان له هيواده دب اندې دعصري زده کړو په خاطر د خپل دولت او حکومت په بودجه خارج ته واستول ، کله چې هغوی له خپلو زده کړو او علمي زيرمو سره بيرته

هیواد ته را ستانه شول، ویې کولای شول چې د مالیزیا د هیواد د خلکو ژوند ته داسې بدلون ورپه برخه کړي کوم چې نن یې موږ او نړۍ په آسیا کې د ترقۍ څرګند شاهدان یو، زما یوازنۍ او مهمه هیله له تاسې ګرانو ځوانانو څخه دا ده چې خپله حوصله به له لاسه نه ورکوئ، وګورۍ دا زه چې نن مو مخې ته ولاړ یم په هغه ورځ چې ما خپلې لیسانس زده کړې بشړې کړې تر اوسه جنګونه، وژنې، پردي تیري، د هیواد وراني روانه ده، تراوسه ما آرامي ونه لیده، ما د شوروي یرغل ولید،ما د هغوی ناکامۍ او توطیې ټولې ولیدې، د مجاهدینو غوبل او کابل ورانی مې ولید، د اویا زرو کابلیانو ډیرې جنازې مي په خپلو لاسو خاورو ته وسپارلې، د طالب لومړۍ قمچین کاري مې له یاده نه ده وتلې، امریکایی یرغل خو تاسې هم راسره بدرګه کړ، ځکه چې دا ستاسې د عمرخبره ده، چې په څه شان یې موږ بدمرغه کړو او په څه شان یې لومړی په کورنۍ کچه له ستونزو سره ښکیل کړو، بیا یې ګوډاګي حکومتونه د ګوډاګیو څیرو او سازشونو په وجود کې را باندې برلاسي کړل اوپه پای کې یې هم د خپلو ګټو په خاطر واک هغوی ته چې دوی خپل دښمنان بلل پرته زما، ستا او پرته د خلکو له ارادې وروسپاره دا څه نادره خبره نه وه چې د امریکې ولس مشر ترمپ دیوه امریکایی ژورنالست د دغه سوال په ځواب کې چې ولې افغانستان پریږدی ، ولې مو دومره بیړه ده او ولې هغه ټولې هڅې چې په تیرو شلو کالو کې مو دلته حقې یا ناحقې ترسره کړې اوس له خاورو سره خاورې کوئ ، هغه په یوه جمله کې ډیر ښه ځواب ورکړ:

“ Here after our enemy will do fight for us in Afghanistan”

« له دې وروسته به زموږ دښمنان زموږ له پاره په افغانستان کې جنګیږي»



ما دهیواد له دغو ځوانانو ډاکترانو سره د خپلو خبرو په ترڅ کې په هیواد کې د اوسنۍ غمیزې بیلابیل اړخونه او د هغې بدمرغۍ په ډیره لنډه توګه په ډاګه کړې، هغه ستونزې چې د پخواني نظام د خیانت کارۍ او اوسني نظام د بې کفایتۍ بریا وه او ده یوه یوه په ګوته کړې د بیلګې په توګه ما دا هم وویل چې :

- په هیواد کې تر (۴۰) زیات پوهنتونونه له منځه تللي او بند شوي دي، که د هر پوهنتون د زده کونکو شمیر په لږه کچه ۵۰۰۰ تنه وبولو د پایلې خبره تر یونیم سل زره اوړي چې دا ټول اوس بې سرنوشته یا پرکورنیو باندې پیټی دي او یاهم درګرده له هیواده وتلو تیاری نیسي .

- تر ۵۰۰ سوه زیات یوازې د پوهنتونو استادان له هیواده په وتلو ناچار شوي چې ټول یې په بې سرنوشتۍ سره له هیواده د باندې له سلګونو ستونزو سره مخامخ هلته ناهیلی ژوند ترسره کوي .

ـ په لکونو نجونې چې له ښوونځیو او پوهنځیو څخه منع شوې دا بیا بله خبره ده چې په نړیوالو تراژیدیو کې باید حساب شي.

ـ تر ۳۰۰۰ زیات زده کونکي یوازې په هند کې له زده کړوڅخه له دې امله چې طالبي حکومت څوک په رسمیت نه پیژني له زده کړو بې برخې اوپه نامعلوم سرنوشت اخته دي.

- په لکونو زده کونکي په هیواد کې دیوه سم اوعلمي نړیوال تعلیمي نصاب د نشته والی له امله د زده کړو په بې ګودره سیند ورلاهو کړل شوي چې په نږدې راتلونکې کې دهیواد په کچه دعلمي کدرونواوددغې برخې د کارپوهانو د نشتوالي له امله دیوه بسیا ملي تعلیمی نصاب د رامنځ ته کیدو شونتیا ګرد سره تر سترګو کیدای نه شي.

- تر  ۵۰۰ زیات لیکوال، شاعران ، ژورنالستان، هنرمندان  چې مسلکي کدرونه وو له هیواده په وتلو ناچار او په ټوله نړۍ کې دیوې تیارې او ناهیلې راتلونکي پر لور ورمخه او آواره شوي دي.

- په هیوادکې دننه او باندې د میلیونو په کچه د( خاموش اکثریت) غږ نه حاکم نظام اوري اونه یې نړیواله ټولنه په فکرکې ده، دنړیوالې ټولنې استازي په میاشتو او اونیو کې هیواد ته دننه او له هیواده د باندې ګاونډیو هیوادوته سفرونه کوي خو یوه هم په هیواد کې دننه د خاموش اکثریت پوښتنه ونه کړه اونه یې د هغوی ملي، مسلکي، حقوقي او انساني مرامونو ته چې د هیواد په سرنوشت کې جوړونکې ونډه لري پاملرنه وکړه.

ګرانو ځوانانو!

د دغو ټولو حقایقو په پام کې نیولو سره زه بیا هم له تاسو ټولو څخه منندوی یم چې خپل درد درسره شریکوم، سمه ده چې اوسني حالات موږ ته زموږ د هیواد تور او ناڅرګند برخلیک را په ګوته کوي، لیکن بیاهم درته وایم چې موږدا ډول لیل ونهارونه څو څو وارې ولیدل، راغلل، ویې نیول ، ویې وژل اولاړل، تاسې باید خپلې حوصلې له لاسه نه ورنه کړئ، ستا ارادي باید ستا تر هندوکش هم اوچتې وي، ترڅو چې دغه تور غوبل تیریږي، ملت او وطن له شکه پرته ستاسې علمي هڅو او زده کړوته اړتیا لري، هغه زخمونه چې موږته زموږ راتلونکو ته زموږ میندو او زموږ خویندو ته د هرې ورځې په ترځ کې ورپه برخه کیږي، پرهغو به تاسې پټۍ ږدئ اوهغه زخمي زخمۍ هیواد ته به تاسې د عصر د تسلې زیرې د خپلو علمي زیرمو او لاسته راوړنو په سوله ییز آواز کې رسوئ، انشاالله .

زما له خبرو وروسته محصلینو خپلې خبرې، غوښتې، هیلې او ستونزې هم وویلې چې د هره یوه نظر او څرګندونې زموږ له پاره، زموږ د هیواد له پاره د ځانګړې ډاډ وړوي. !

د دغې لیکنې په پای کې د هغو یو شمیر محصلینو پر بریاوو او پیژندګلوۍ باندې هم لنډه رڼا اچوم چې هغوی چې په دغه پوهنتون کې پر کومو علمي کارونه باندې بوخت دی.

## د یوشمیر دوکتورا محصلینو علمي هڅې او لنډه پیژندګلوي

**کاندید ډاکتر محمدالله احمدي**



## کاندید ډاکترمحمدالله احمدي

کاندید ډاکترمحمدالله احمدي په خوست کې زیږیدلی، ځانګړې زده کړې په سیول انجنیري کې کوي، دده د دکتورا موضوع ترکومه ځایه چې ده ماته تشریح کړه په خپل ذات کې یونوښتي کاردی چې په راتلونکي جوړښتی یا ساحتماني انجینري کې په تیره بیا په افغانستان کې به یونوی کا ر وي. دده د تیسس سرلیک

**Effect of cementitious materials on the strength properties of fiber reinforced concrete**"

دی چې د سیمنتو د بدیل په اړه دده په نظریوه ضروري رامنځ ته کیدونکی پدیده داچې زه په دغه برخه کې مسلکي څوک نه یم خودومره می د ده له اوږده بحثه ترلاسه کړه چې په راتلونکي ساختماني انجنیري کې یوجالب او نوی بحث دی، داسې چې دده په خپله څانګه کې هم دیوه ارزښتناک اونوي تحقیق په توګه منل شوی دی.

د انجنیر احمدي علمي اونوښتی څیړنه د فایبر تقویه شوي کانکریټو په پیاوړتیا باندې د بیلابیلو سیمنتي موادو اغیزه ده، په دغه برخه کې د (SCMs) مواد په څه شان پر فایبر پیاوړي شویو کانګریټو باندې اوړي او یا اغیزه کوي. د انجنیر محمدالله څیړنه، نه

یوازې دا چې له اکاډمیک پلوه دپاملرنې وړده بلکي د ساختماني  عملي صنعت له پاره د پاملرنې وړعملي اثر او اغیزې لري. هغه هیله من دی څو په ډاګه کړي چې د ده تحقیق به د چاپیریالي ښیګړنو په برخه کې هم خپله رغنده اومهمه اغیزه ولرلای شي.

ګران انجنیر محمدالله احمدي ته د خپل دغه نوښتي علمی کارپه برخه کې چې د افغانستان په ساختماني برخه کې یوه نوي هڅه ده د لابریو په هیله یو.

**کاندید دوکتور سهیلا سما**




کاندید دکتری سهیلا سما

درشهرکابل زاده شده،تحصیلات ابتدایی خود را درشهرکابل ولیسانس خود را ازفاکولته ژورنالیزم پوهنتون کابل بدست آورده است. ماستری را دربخش مطالعات دفاعی وامنیتی درپوهنتون پنجابی پتیاله به اتمام رسانیده است. اکنون درهمین دانشگاه مصروف تکمیل تیسس دکتری خود درهمان بخش دفاعي وستراتیژیک می باشد.

سهیلاسما درافغانستان علاوه برآنکه دربخش حقوق بشری کارکن فعال بوده عضویت

چندین سازمان فرهنگی را نیزداشته است.ودرفعالیت های فرهنگی چه درمرکزکابل وچه هم درولایات کشورسهم فعال داشته است. سما اکنون مصروف تیسس دوکتوری خود است وتا حال بخش عمده کارتحقیقی خود را با همکاری استاد رهنما خود به اکمال رسانیده است. وی مانند همه دختران وخانم های کشور درشرایط فعلی احساس ناراحتی می کند ولی باآنهم براین باوراست که زنان افغان ودختران تحصیل کرده افغانستان نیم ازبدنه کشورش را می سازند باید در سرنوشت کشور سهم بگیرند وبخاطر آزادی های مدنی و تعلیمی خود باید سرسختانه مبارزه نمایند. تحصیل وتعلیم داشتن کارحق مسلم دختران و زنان افغانستان می باشد باید بخاطر بدست آوردن آن تا سرحد برآورده ساختن آن مبارزه دوامدار انجام شود وصدای رسای زنان و دختران افغان را به گوش دولت مردان حاکم کشور و جهانیان برسانند. به آرزوی موفقیت های کاندید داکتر سهیلا سما

کاندید ډاکتر محمد اسحاق ستانکزی



کاندید ډاکتر محمد اسحاق ستانکزی

ښاغلی ستانکزی په لوګرکې زیږیدلی، خپلې لومړنۍ اولیسانس زده کړې یې په لوګراوکندهارپوهنتون کې ترسره کړی دي، اوس په پټیالې پوهنتون کې پرخپله دوکتورا باندې داداري اومنجمنت په پوهنځي کې کارکوي دده دځیړنې موضوع « په سازمان ورکولوکې مصنوعي ځیرکتیا کوم تصمیمونه نیولای شي؟ اویا کوم حالت غوره کولای شي ؟» دده موضوع زما په نظردعصرله غوښتنواویاپه بله وینا زموږ په څیړنوکې ترډیره حده نوې موضوع ده، ښاغلی ستانکزی ویښ په بحث مین،د روښانه اند لرونکی اودافغانستان له روانو ستونزوڅخه خبرځوان دی، دده له پاره دده دعلمي تحقیق په باره کې چې دده په وینا ډیره برخه کې بشپړه شوې د لابریواوخوشیوهیله کوو.

**کاندید ډاکتر مختار رجی**



## کاندید ډاکتر مختار رجی

داکتر رجی در ولایت فراه بدنیا آمده، تحصلات ابتدایی خود را در فراه و شهر کابل په پایان رسانیده است. ماستري خود را اردانشگاه شارده هند دربخش ریاضي بدست آورده، بالاثر استعداد و درجه عالی که از آن پوهنتون فارغ شده بود چندی بحیث استاد ریاضی نیزتدریس نموده است. مختار رجی از جوانان با استعداد کشور است. اکنون در پوهنتون پنجابی پتیاله پنجاب روی تیسس دوکتورای خود در بخش ریاضی کاربردی و عملي کارمی کند. وی یگانه جوان افغان است که در بخش ریاضی مصروف تحقیق

درین پوهنتون است.کارت حقیقی ایشان در بخش ریاضی عملي مژده ای خوبی در راه پرورش آینده جوانان افغانستان را باخود دارد. جوان پرُکار، زحمتکش و خوش برخورد است. پیامی برای جوانان کشور دارد که می نویسد: « جوانان عزیرکشورا! ، هیچ چیزي و انگیزهء نمی تواند اراده مصمم شما را شکست دهد، با اعتماد به نفس وتلاش مداوم به هدف تان خواهید رسید، هر روز باید قدمی بسوی رویاهای سازنده تان بردارید وهرچالشی را به عنوان یک فرصت برای رشد وپیشرفت خود درنظرگیرید وبه هیچ مانعی اجازه ندهید تا مانع تحقق رویاها وآرمان های تان شود.

به آرزوی سعادت وبهروزی داکتر مختار

## ډاکتر تاج محمد ځلاند،



تاج محمد دکابل ولایت په ارغنده کې زیږیدلی اوخپلې لومړنۍ اولیسانس زده کړې یې په ارغندۍ اودکابل د ښوونې او روزنې په پوهنتون کې ترسره کړې دي، ماستري زده کړې یې هم د پټیالې په پوهنتون کې ترسره کړې اوبیایې پرخپله دوکتورا باندې هم دلته خپلې څیړنې پیل کړې دي، د تحیق موضوع یې

“ Impact of Human Resource Management Practice on employee performance in the Banking sector of Afghanistan”

ده چې په بري سره همدا اوس کار وربانديږ کوي، اوليکي چې شپه او ورځ د خپل لارښود استادسره دخپلې موضوع او راټولوکړيومعلومات په اړه مشورې کوم اود پرله پسې څيړنې په خاطرمې ډيروخت په کتابتون کې تيرېږي، دی دافغانستان  ځوان نسل نجونواوهلکانو ته دا پيغام لري چې تاسې د راتلونکي اوبسيا افغانستان سرمايه ياست، پياوړي اوهڅاند، هيله من اوزغمناک و اوسئ، خپلې هغه هيلې او ارمانونه، خوبونه اوخيالونه چې د سبا له پاره موپه  پام کې دي ، دهغودتحقق له پاره کلکه اراده ولرئ، ستا هڅې اوستاسې علمي برياوې اومقاومت ستاسې د سبا دبريورښتينی  ضمانت کوي.

ګران ډاکترځلاند ته دلابريوپه هيله.

**کانديد ډاکتر عبدالوکيل بهرامي**



## کاندید ډاکتر عبدالوکیل بهرامي

په کابل کې زیږیدلی دی، خپلې لیسانس زده کړې یې د کابل دښوونې او روزنې په پوهنتون کې د طبعي علوموپه برخه کې ترسره کړې دی، ماستري یې هم په اوسنی پوهنتون کې بشپړه کړې ده، اوس په پنجابي پوهنتون خپلې دوکتورا زده کړې ترسره کوي، دده د تحقیق موضوع (**هغه خنډونه دی چی په اداراتو کی د ښځو او اقلیتونو په غیرمستقیم ډول باندی د پرمختګ مخنوی کوی)** ده چې اوسدخپل لارښود استاد ترلارښونې لاندې کاروربانديې کوي، په خپل کارکې هڅاند اوبرلاسی دی، دافغانستان په اداره کې دڅوکالونودکارتجربې هم لري معنی داچې په اقتصادي برخه کې یې ډیرکارکړی دی.

پرعلمي هڅوبرسیره ګران ډاکتربهرامي هم افغان ځوان نسل نجونواوهلکانوته دا پیغام لري چې ټول ځواک مو پر زده کړو واچوئ، ستاسې زده کړې اوستا حوصلې دافغانستان دخوندي راتلونکې اوترقۍ جوړونکی پیغام له ځان سره لري ،هره ستونزه اوهره ناخواله بیاهم پای لري خوپه دې شرط چې زغم ، اراده اوهیلې له لاسه ورنه کړو. د لابریاوښوهڅوپه هیله !

## کاندید ډاکتر اسلام الدین رحیمزی



## کاندید ډاکتر اسلام الدین رحیمزی

اسلام الدين دخوست په توري اوبه نومي کلي کې زیږدلی دی، لومړنۍ زده کړې یې په خوست اولیسانس زده کړې دهند په میرټ کې بشپړې کړې دي، ماستري یې په پونې پوهننون کې بشپړه کړې ده ، له هغه وروسته یې په خوست کې په یوشمیرپوهنتونولکه پامیراونوروکې تدریس هم کړی دی، ډاکتري زده کړې اوڅیړنې اوس په پټیالی پوهنتون کې داداري اومنجمنت پوهنځي کې په مالي برخه کې ترسره کوي، اسلام الدین هڅاند په زده کړو مین اودځانګړي ذوق خاوند زده کونکی دی، لویه هیله یې د نویو نوښتي زده کړو اوهڅو پرلورده، اوپه دې هیله دی چې خپل تجربې په هر ډول چې وي دخپلوخلکواوخپل هیواد د راتلونکي په درد دوا کړي. دده له ځانګړتیا ووڅخه داده چې دخپل عملي کارله پاره ډیروخت به تحقیق اوکتابخانوکې تیروي . اسلام الدین مینه ناک اودلویواوبشپړو برياوو هیله ورته کوم .

**کاندید داکترمحمد هادی موحد**



کاندید داکتر محمد هادي موحد

موحد درولایت زیبا وتاریخی بامیان تولد یافته، تحصیلات ابتدایی ولیسانس خود را از پوهنتون بامیان بدست آورده، ماستری خود را در پوهنتون جواهرلعل نهرو در دهلی در بخش جامعه شناسی به اتمام رسانیده است. اکنون درشعبهء جامعه شناسی و بشرشناسی اجتماعی پوهنتون پنجابی پتیاله مصروف کار تحقیقی روی رساله دوکتورا خود می باشد. موحد بعدا ازاکمال لیسانس خود درادارات مختلف افغانستان مانند بنیاد آغاخان و وزارت تعلیم و تربیه وظایف و کارهای موثری انجام داده است. ایشان علاقه مند است تا رساله تحقیق خود را در باره هویت، واتنوستی اجتماعی مهاجرین افغانستان در هند به اکمال برساند. به آرزوی موفقیت های ایشان !

**کاندید ډاکتر احمد قیس شینواری**



**کاندید ډاکټر احمد قیس شینواری**

په افغانستان کې زیږدلی، لومړنۍ زده کړې یې هلته بشپړې کړې دي. خپلې لوړې زده کړې په هند کې ځارلې، لیسانس او ماستري زده کړې یې په کامپوتري علومو کې د هندوستان په پونې کې بشپړې کړې دي، بیرته افغانستان ته تللی اوهلته یې خپلې مسلکې تجربې او زده کړې له بیلابیلوکورنیو او بهرنیو انجیوګان ولکه ( آی سی آر سی ) (ډی ای آی ) (یوډی اس او) ( ایی اس او) سره شریک کړې دي. بر دې برسیره یې له افغان حکومتي ادارو، پوهنتونو، او ختیزو ښاروالیو سره هم همکاري کړې او دوی ته یې د ( آی سی ټي) په برخوکې هم لارښونې کړې دي. همداسې یې دافغانستان د څیړنیزې او ښوونیزې شبکې (افګا آر ایی ان) له لارې د افغانستان د پوهنتونو د ( آی سي ټي) د

شبکې په برخه کې هم رغنده برخه اخیستې ده. دم ګرۍ ښاغلی قیس شینواری په خپله دوکتورا باندې د هندوستان دپنجاب په پټیالې پوهنتون پر،

"Recognition of Handwritten Cursive Arabic Script for Pashto Language Using Deep Learning."

باندې چې یوه جالبه، نوې اود پاملرنې وړموضوع ده کارکوي. ښاغلی قیس ځوانانو ته د خپل پیغام په ترځ کې وايي: ستر پیغامبرص وایی چې له زانګود ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې زده کړه وکړئ. لوی اسلامی پوه تیمیه ټینګار کوي او وايي چې پوهه دهرڅه کیلي ده، زده کړه د پوهې اهمیت په نښه کوي، هر افغان نر او ښځه دا حق لري چې باید زده کړه وکړي اود زده کړې په زوربايد د هیواد اوسنیو او راتلونکو ګواښونو ته دغوڅ ځواب تیاری ولري. کاندید ډاکتر شینواري ته د خپلو نوښتي کارونوپه برخه کې د لابریو په هیله...

د لیکنې پای

**پروفیسور عبدالخالق رشید**

د ۲۰۲۴ کال د اپریل ۲۷

نهرو پوهنتون - نوی ډیلی